




## د مولانا داکتر محمد سعيد « سعيد افغانی » ليکنه

**د نشر نېټه : 23 اپريل 2017 م**

# بايد مغرض خلک وپيژنو

په اجتماعي ژوند کښې دخلکو پيژندنه نهايت ضروری ده او دا ځکه چه په خلک کښې داسی خلک شته ، چه خلک غولوی او په دغه لياره کی پوره مهارت لری .
هغه جوامع چه په خلکو کښې ئې د ښو او بدو خلکو د پيژندنی ذهنيت زهير او ضعيف دی، حتمأ هلته اجنبي لاسونه په مختلفو هيلو سره کار کوي او د عمومي تباهي وسايل زياتوي .
هغه اقوام وملل چه ترننه پوری د استعمار او استثمار په لوبه کی ګير پراته دی، دهغو ی يوازنی علت هم دادی چه د خپل او پردی د توپير کولو قواوی ئې زهيری دي او بل داچه که څه هم چال ، فريب او غولول ګناه او اخلاقي جرم دی. مګر؛ شته دی داسی عناصر چه د خپلو شومو مطالبو د پاره د دی ډول ګناه او اخلاقي جرم ، هيڅ کوم خيال نه ساتی .
حضرت محمد ( ص) فرمائې : د قيامت په لوی ورځ کښې به خائينان او غداران په غټ شرم مبتلای او خلک به دوی په دير سخت وضعيت او رسوائی کښې وينی .
دوی به د دغی رسوائی په واسطی سره ، خلک پيژنی چه په دنيا کی ئی په ډير عامليت سره د غولولو ، فريب ورکولو او خيانت کاروته کول .
هو : دوی به خپل تورکارونه سپين معرفی کول او د خلکو په افکارو او عقيدو به ئی د ناوړو مقاصدو ترلاسه کولو دپار، سلطه پيدا کوله .
واقعأ هغه کسان چه خلک غولوي او د خپلو ناوړو مقاصدو او اخلاقي او اجتماعي تباهيو دپاره ئی استعمالوی ، د اجتماع دپاره بد او مخرب عناصر دی ؛ کوم چه د ډيرو بدبختيو او پسمانيو موجب کيږی. دارنګه عناصر بايد خلک وپيژی اودوی ته دا موقع ورنه کړی چه څوک د دوی په سرنوشت طفلانه لوبی وکړی .
متاسفانه چه د بشر په تاريخ کښې داسی عناصر څه د پرديو د استعمال په وجه او څه د خلکو د ساده توب له امله ديری وران کاری کړی او خلک ئی د ډيرو بدبختو سره مواجه ګرځولي دي .
دا هغه خلک دی چه متاسفانه په خلکو کی ئی ځان پوه او عالم معرفی کړی وي او خلک ورته د پرهيزګاری عقيده لری ، مګر؛ دوی دننه بل رنګه وي .

دوی ته خلک د ديندراه ښه سری توب عقيده لری؛ خو دارنګه خلک کله کله د لباس او جامو په اسطه حقايق سرچپه کوي او ديو څو غلط مقصد په وجه د خلکو دقت او توجه ځان ته اړوی.
زه دانه وايم چه په دغه قواره ټول خلک مغرضان دی .

زما دا مقصد نه دی چه هر چا چه عبا، قبا ، لباده ، عمامه ، چلتار ، لویه شنه امسآ ، او اوږدی تسبی ئی در لودی هغه به مغرض وي. نه خیر!! داسی وینا هم په کلی طور سره غلطه ده . بلکه ښه سړی ټوب د زړه کار دی او د ډېرو احسن اعمالو په کولو سری مینځ ته راځی .

ښه سړی توب یوازی په ګیری کېږی نه دی ، اونه هم په سپینه پګړی او اوږدو جامو کی دی !! بلکه ښه سړی توب د ځان په اصلاح کېږی او د خدای ( ج ) او د خلکو د حقوقو د پیژندلو او د خیر غوښتلو محصول دی چه په ښه نیت ، اراده او اخلاص د بشر د سعادت ، ترقي او تعالي په لیاره کېږی، اوسي .
ښه خلک د خلکو سره په روان چال او چلند کېږی معلومیږی نه دا چه هیڅ نه کوی او نه د خلکو د کارونو طرفدار وي.
ښه خلک هغه دی چه خلک ئی دلاس او ژبی د ضرر څخه په امن کېږی وي او د چا مالونوته ئی سترګی نه وی پټی کړي .
هغه خلک واقعاً ښه خلک دي چه د خلکو سره مینه او محبت لری او د جامعی او د وطن د خدمت په لیاره کېږی د حیات تر آخره رمقه پوری سعیه او کوشش کوي .
هغه کسان واقعاً ښه خلک دی چه وسعه ئی رسیږی مګر؛ چاته ضرر نه رسوی او سره له قدرته د چا مال نه خوری اونه په چا ظلم کوي .
هغه خلک رښتیا ښه خلک دی چه د خلکو په تکلیفونو اومشکلاتو خوږیږی اوترڅوئی قدرت رسیږی د خلکو سره په لاس ، ژبه او مال کی فقط او فقط خدائی ، مرسته او معاونت کوي.
نو په دی اساس که چیری دارنګه خلک ، که خلک دوست وګڼی او د دوی په خبر و عمل وکړي او یا دوی ته د خدمت په لیاره کېږی وسایل برابر کړی ؛ حق او لیاقت لری.
خلک باید ښه متوجه اوسی چه د ښو او بدو خلکو په پیژندلو کېږی خطا نشي او کوښښ وکړي چه د هرچا په خبرو ونه غولیږی .
زه پدی لیاره کېږی یو سلسله تجربه لرم، ځکه ډیر داسی خلک می لیدلی چه دوی په غوږو خبرو او چالونو سره، خلک تباه کوي او له دغی لیاری څخه د دښمنانو په ګټه کارونه کوي .

ما ډیر داسی خلک لیدلی چه د خپلی غلطی خبری د تائید د پاره له ځانه د حضرت حق ﷻ او د ده د مقرب رسول په وینا دلیل نیسی او یا د نورو پیغمبرانو او اصحابو اقوال د خپل تائید د پاره راوړی. خو حقیقت هغه نه وي او دوی په دروغو سره د ناپوهانو افکار خرابوی او په ډیر سپین سترګی ؛ حتی په پاک الله او دهغه پیغمبرانو باندی هم دروغ وائی .

ما ډیری داسی وېناوی په مجالسو کېږی اوریدلی دی چه په خدای (ج) او پیغمبرانو د دروغو حواله ورکړل شوی ده . که څه هم ما اکثراً صرفه نه ده کړی او په همغه مجلس کی می پری رد کړی ده ، مګر ؛ ځینی داسی هم شوی ده چه د فتنی او فساد په وجهی غلی شوی یم او څه می ندی ویلی او داځکه چی بله چاره می نه وه ، مګر؛ په زړه کېږی ډیر خفه شوی یم او د داسی تباه کارانو په حال می تاسف کړی او د ځان سره می وایلی :
کاش : د انسان زړه لکه دهغه قهواره غوندی ، ښکاره وی ؛ ترڅو مغرض خلک چه د فتنی ، فساد او د بشر د تباهی موجب ګرځی ، وپیژندل شي .
سعید افغاني
د جدی ۲۲ مه ، د ۱۳۴۴ هجري شمسي کال ــ ننګرهار

ترتیب کوونکی : برهان الدین « سعیدی »

بازگشت به صفحه اصلی – www.said-afghani.org